# د سولې سفر

يولسمه کېسه

دوهم چاپ



# عبدالله او د لوړ قد سړی


**ليکونکي:**

مارى- جو لند
داکتر جوانا سناتا باربارا
داکتر ګرايم مک کوين
کيون آرتر لند

ديزاين: يار محمد تره کي
*انځورکونکۍ :* يار محمد تره کي

*ژباړونکي: ثريا سديد او محمد يوسف جبارخيل*



موسسه کمک به اطفال افغانستان
**Help the Afghan Children**
www.htac.org

**کيسې او د ښوونکي لارښود په لاندې ويب سايټونو کې شته دئ:**

**[www.journeyofpeace.ca](http://www.journeyofpeace.ca)**

**او**

**[www.htac.org](http://www.htac.org)**

HTAC

ددې کيسى کتاب د موسسه کمک به اطفال افغانستان په واسطه تمويل او ژباړل شوی دی.

موسسه کمک به اطفال افغانستان

**Help the Afghan Children**

*'building a civil society through education'*

# د سولې سفر

## یولسمه کېسه

دوهم چاپ

# عبدالله او د لوړ قد سړی


لیکونکي:

ماري- جو لند
داکترجوانا سنتا باربارا
داکترگرایم مک کوین
کیون آرترلند


دیزاین: یار محمد تره کی

انځورکونکۍ : یارمحمد تره کي

اصلاح کونکي : کیون آرترلند او ماري – جو لند

د پروژې تنظیمونکي: ډاکترصدیق ویرا او ډاکتر گرایم مک کوین

ژباړونکي: ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل - موسسه کمک به اطفال افغانستان


دسولې دڅېړنو مرکز ، دمک ماستر پوهنتون

هامیلتون ، آنتریو ، کاناډا

د 1388 کال پسرلی

**په کيسه کې ښکيل کسان :**

**جميله** : يوه ۱۰ کلنه نجلی چې دافغانستان ديوې لرې پرتې سيمې په يو کلي کې ژوند کوي .

**احمد** : دجميلې ۵ کلن ورور

**عبدالله**: دجميلې ۱۵ کلن ورور

**حليمه** : دکوچنيانو مور

**ميرزا**: دکوچنيانو پلار

**بي بي جان** : دکوچنيانو پلرنی انا

**غلام کا کا**: دکوچنيانو پلرنئ نيکه

**يونس** : دکوچنيانو کا کا او دبي بي جان او غلام کاکا کشر زوی ، چې په ۲۰ کلنئ کې دماين دچاودېدو له امله ووژل شو.

**فاطمه** : دکوچنيانو ترور او د يونس کاکائوانه کونده

**علي** : دکوچنيانو تره چې په ښارکې هستوګنه کوي.

**عايشه** : دکوچنيانو ترور ، دعلي ميرمن چې په ښارکې ژوند کوي .

## دکیسې لنډیز :

جمیله له خپلې کورنۍ سره دافغانستان په یوکلي کې ژوند کوي . دهغې کورنۍ دهېوادپه داخلي اخوډب کې پخوا هم ډېرې ستونزې لېدلې وي اوهغه یي لا هېرې شوې نه وې چې یوبل مصیبت ورباندې راغی . یونس کا کا چې په ځمکه کې یي کار کولو،یومایڼ پرې والوت اوهغه یي وواژه اوپلار یي ،میرزا، یوه پښه له لاسه ورکړه .

**دجمیلې دسوغات په کیسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله کورنۍ کې دیوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، دعبدالله تشویش اوسودا له دې امله ده چې جنګ دده دمکتب ددوران یوملګري ته کلک ګذارورکړی دئ اودهغه په شخصیت اوسلوک یي بدلون راوستی دی . دجمیلې دوېرونکوخوبونوراز اوبي بي جان چې غواړي په یوه ځانګړې طریقه دهغې درملنه وکړي په دې کیسه کې ځاي شویدي .

د **بی بې جان د هوښیاری په کېسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله کورنۍ کې د یوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، د عبدالله تشویش او سودا له دې امله ده چې جنګ دده د مکتب ددوران د یوملګري روغتیا ته کلک روحی ګذار ورکړی او دهغه په شخصیت او سلوک کې یې بدلون راوستی دئ، د جمیلې د ویرونکو خوبونو راز او بی بی جان چې غواړی په یوه ځانکړی طریقه د هغې درملنه وکړي په دې کېسه کې ځای شوي دي .

**دکلچودپخولودکېسې** ډېره برخه دجمیلې ددردونو اورنځونو څخه حکایت کوي . هغه ماین دومره وېرولې چې په دې برخه کې دعبدالله له قهرېدلوسره سره ، له ماینوڅخه په پاکه شوې لاره هم دتللو په وخت کې لړزېږي . بي بي جان دکلچوپه پخولو کې له جمیلې سره مرسته کوي اوله همدې وخت څخه په ګټې اخیستلو کوښښ کوي چې دخپل پلار دتېپې کېدلوغم وزغمي . همدارنګه بي بي جان غواړي داسې یوآغېزمنه لارپیداکړي چې دهغې په وسیله فاطمه وهڅول شي هغه غم چې ورته دیونس کا کا دمړینې له امله پیداشوی دئ په خپله ژبه ووایي .

**دمیرزا دغمجن زړه په کېسه** کې ،دجمیلې لپاره داډېره ستونزمنه ده چې وپوهیږي ، دمیرزاپه زړه کې څه رازپروت دئ چې هغه یي دومره غمجن کړیدئ . جمیله له دې کبله ډېره خپه ده چې پلاریي اوس هغسې خوښ نه ښکاري لکه له معیوب کېدلو څخه چې مخکې و . پلاریي داسې یو سړی وچې

ډېرې کيسې يې زده وي . دجميلې ماشومانه پوښتنې ميرزا ته ژړاورولي ، اودا ورپه يادوي چې هغه پخوا څومره خوشحاله سړی و . اوداهيله ، چې بېرته پخوانی حال پرې راشي ، دده په زړه کې راژوندۍ کوي

**د يونس دسندرې په کيسه کې،** احمد او جميله د فاطمې غم او خپګان، چې هغه د يونس کاکا ځوانه کونډه وه، احساسوي او کوښښ کوي چې فاطمه بيرته خوشحاله کړي. بي بي جان هم په دې موضوع پو هيږي هغه خپل فاميل ته د مختلفو لارو وړانديزکوي. هغه دکورنۍ له غړوڅخه غواړي چې يوځای کې راټول شي او هغه خوړې خاطرې چې له يونس څخه يې لري د سندروپه ويلو ونمانځي.

**د کور پرېښود لو په کېسه کې،** هغه وخت چې دشپې له خوا د دوی په کلی دمر دکيودويشتلو باران جوړ شو، کورنۍ له دې ډارونکې واقعيت سره مخ شوه چې بايد خپل يو ګران شئ چې هغه ددوی کور و ترک کړي. د کورنۍ هرغړی له د غې ناحيې څخه کلک روحي ګذار خوري. خو په اخرکې دوي په دې پو هيږي چې بايد له زړه ورتيا څخه کار واخلي او دهغو په وړاندې مقابله وکړي.

**د يونوي ملګري په کيسه کې** دميرزا کورني غواړي د علی کورته ولاړه شی . دعلي کورته له رسيدلو څخه مخکې دوی دلارې په اوړدوکې دميرزا دېو پخواني اشنا کورته ورګرځي . دميرزا ددغه دوست په کور کې عبدالله د هغو خلکو په برخه کې چې په نورو ژبو غږيږي اويادبل مذهب پيروان دي دقضاوت کولو يو ارزښتنا ک درس زده کوي.

**د پخلا ينې په کېسه کې** کله چې د جميلې کورنۍ د ښار په لورې ځي، عبدالله وليدل چې جميلې له کوره څخه خپله پيشو هم له ځان سره راوړې ده . د سفر په اوږدوکې هغې له ځان سره پټه ساتلې وه، عبدالله په قهر سره پشی له جميلې څخه اخلي او دسرک دغاړې بوټو ته يې ور غورزوي. جميله په ورور باندې په قهر ده او داسی ځان ښيي چې ګواکې وروررنه لري، دا اوس بي بي جان پورې اړه لري چې د هغوي د پخلا کولو لپاره يوه لاره ومومي.

**دميرزا دقهر په کيسه کې** ميرزانشي کولی چې خپل اعصاب کنترول کړي . داکارددہ دکوچنيانو ، جميلي اواحمد ، دوېرې اوډارسبب ګرځي . دميرزا عصبي کيدل دهغه په کوچنيانو ناوړه اغېزپرېږدي اوداددې لامل ګرځي چې هغوی تل دنورو په وړاندې تنده اوتاوجنه رويه اختيارکړي . احمد چې پټ شوی ودخپل پلار اوبي بي جان خبرې آوري . دوی د هغې نآرامی په هکله غږېدل چې ميرزاته دده

دپښې دغوځېدو له کبله پېداشوېده . داحمد موندل په هغه ځای کې چې پټ شوی وو دازمینه برابره کړه چې دپلار اوزوی ترمنځ یوځل بیااړیکې سمې شي .

**د سولې او پخلاینې په کېسه کې** د بي بي جان عالمانه مهارتونه یوځل بیا ازمویل کېږي. هغوی په دې لټه کې دي چې د میرزا دورور کور، علی او مېرمن ئې چې په ښارکې هستوگنه لري،پیدا کړي. دوی مخکې له دې چې د علی کورو مومي، د کډوالو په یو کیمپ کې چې دا کیمپ په یو زاړه ښوونځی کې جوړ شوی وو ځای په ځای شول. کله چې د میرزا کورنۍ خپل موقتي ژوند په دغه تنگ گوټ کې پیل کړ، عبدالله له یو کوچنی هلک سره په دې خبره چې هغه خپل بایسکل د نور ود اوسیدلو په ځای کې درولی وو جنگ وکړ.

**عبدالله او د لوړ قدې په کېسه کې** ، عبدالله له یوې اونۍ راهېسی له خپل فامیل سره د کاکا په کور کې اوسېږي . هغه ډیره سخته تبه لري . هغه مخکی له دې چې ویده شي ، د کوچنیوالي د دورې هغه هیلې او ارمانونه په یاد راولي ، چې غوښتل ئې ، کله چې غټ شی د عسکری خدمت ته به ځی هغه په خوب کې یوقوی هیکل لرونکی عسکر په داسی حال کې وینی چې نوموړی په مارکیټ کې دی اوله ده سره د جنگ د واقعیتونو په اړه خبرې کوي.

## ددرملنی عنصرونه :

**تصویرونه او روغتیا بخښونکی نخښی:** آرامتیا او پاملرنه کول

**د سوله ایزه کړو وړو لپاره لاربښووني :**
د ناروغ خدمت ، د ښوکړو وړو تصدیق او ستاینه

**ستونزې** : ناروغي ، د جنگ آرمان کول

**د درملنې لارې** : د تاوتریخوالی محکومول ، د سوله ایز ژوند د ارزښتونو زده کړه



# عبدالله اودلوړ قد سړئ

میرزا د خپل زوی په تندی باندې د مهربانی لاس راکشولو او ویل ئې : " په خپله بستره کې دې آرام ویده شه ."

عبدالله خپل سرپه بالښت ایښی و خپل پلارته ئې کتل . هغه خپل ځان د یوې درنې تیگی په ډول احساسولو . عبدالله له خپلې کورنۍ سره یوځای ، له یوې اونۍ راهیسی ، د خپل کاکا په کورکې، چې په ښار کې وو اوسیدلو . هغه هلته ناروغ شو . د ناروغۍ له کبله ئې نشوکولئ چې وخوځیږی .

هغه باید یو کار پیداکړی وای . خود هغه پرځای د ناروغۍ په بستره کې ولوید . د کور میرمنې اړ شوې چې دهغه خدمت وکړي . هغوی له دې څخه پرته هم ډیری ستونزی درلودې او دابله بلاوه چې پرې ورزیاته شوه .

میرزا وویل :" عبدالله زه دعا کوم چې خدای دې ژر جوړ کړي . عبدالله ! تا وکولی شو چې د علی کاکا او عایشی ترور کوردې پیداکړې . مگر ته ناروغ شوې . که ته نه وای شاید چې مونږ دومره ژر له کیمپ څخه نه وای راوتلي. له تانه ډیره مننه خو اوس ته باید استراحت وکړی چې روغ شې .

عبدالله ډیرضعیف شوی وو . بدن ئې د تبې له امله سوځیدلو . هغه ولید چې میرزا د خپلو چکسونو په مرسته له کوټې ووت . میرزا خپلې کورنۍ ته ویلی وو چې نن ورځ د خپل ځان لپاره کارپیداکوي. خو عبدالله دا تصور نشو کولئ چې د یوې پښی لرونکی سړی ته دې کار پیداشي .

عبدالله په ټول سهار کې د کوټې چت کتل ، کله به خوب یوووړاو کله به بیا وېښنس شو . ډول ډول خاطرې ئې په ذهن کې راګرځېدلې . په یاد ئې راغلل کله چې دئ کوچنی وو له خپل پلار سره دې ښارته راغلی وو . د هغه داهم په یاد راغلل هغه وخت چې له پلار سره په بازار کې ګرځېده وئې لیدل چې AK-47 د بازار په سرک پلورل کېږي او هغه سړی ورپه یاد شو چې ماین او لاسی بم ئې خرڅولو . غټ غټ سړیان چې نظامی لباس ئې په تن وو له ماین څخه ګرد چاپیرولاړو او هغه ته ئې کتل ، خندل ئې او یو بل سره ئې خبری کولې .

کله چې عبدالله بیرته کلی ته ستون شو ، هرچاته ئې ویلې څه وخت چې دی غټ شي د همغه سړیانو په څیر به قوی هیکل ولري د دښمنانو په وړاندې به چې دده په کلې یرغل وکړي په میړانه و جننګیږي . هغه وخت چې عبدالله له ښار څخه کلی ته ستون شو دا آرزوئې تر ډېروخت پورې په زړه کې پاتې وه . دی هغې ورځی ته سترګی په لار وو چې د هقانی پرېږدی او نظامی ښکلی لباس په تن کړي . هغه هیله درلوده چې د ښو خلکوملاتړ کونکی او ساتونکی واوسي او بد کاران له منځه یوسي .

هغه خوب لیدلو چې ډېر خلک په ګولیو ولي کله به چې عبدالله په دې برخه کې فکرکاوسربه ئې په درد شو . د ډېر شدید سردرد له کبله به ئې داسې فکر کولو چې سرئې په اورکې سوځي . له ډېر تږي کیدلو څخه ئې شونډې وچیدلې .

یو ناڅاپه به عبدالله داسی احساس کړل چې ډېر ښه شوی دی او لمر ته قدم وهی .

له ځان سره به ئې ویل :" اوس نوره تبه نه لرم او کولئ شم چې ځانته کار پیداکړم "

عبدالله هوډ وکړچې بازارته لاړشي . خو دا بازار د پخوا په شان نه وو . نن بازار ډېر لوی شوی و او هغه حیران پاتې و چې بازار دومره پراخ شوی دی . په بازار کې ګڼه ګوڼه وه . او هغه داسی احساسوله چې په بازار کې ورک شوی دی .



عبدالله په حیرانتیا له ځان څخه پوښتنه وکړه : " څرنګه کولئ شم چې له دې بازار څخه ووځم ؟ عبدالله ولیدل چې خلک په لوړو قیمتونو چانی وهی . یو سړی دی تعقیبولو او کوښښ ئې کاو چې اړئې کړی تر څو له ده څخه خواړه راونیسی . په عبدالله سره کړو خوړو بوی ښه لګیده هغه د پسونو پوستکي او وړی لېدلي چې د خرڅلاو لپاره ایښودل شوی وې. هغه څاروي لیدل او دانور څه وو ؟ د بازار په بل ګوټ کې یو زیات شمیر ځمکني ماینونه وو چې یو پر بل د پلورلو لپاره ایښودل شوی وو . هغه څومره پاک او ځلېدونکی وو . څه وخت به چې عبدالله وغوښتل ماینونو ته ور نږدې شي په ناڅاپه ډول به ئې په خپل سر د سیورې کیدلو احساس وکړ . کله چې ښه ځیرشو؛ یو دلوړقد سړی ئې ولید چې سیوری ئې د عبدالله شاه اوخوا تیاره کړی وه . عبدالله هیڅکله هم دومره لوړ سړی نه و لیدلئ . د هغه قدد دوه مترو په شااو خواکې وو . هغه د خپل لوړ قد سره نظامی لباس اغوستئ وو . له څیرې او قوارې څخه ئې څرګندیدل چې په ډیرجنګونو کې به ئې ګډون کړی وي . اوږده او تاو تاو ګیره ئې درلوده دواړه اوږده لاسونه ئې په سینه باندی قات کړې ایښي وو. هغه په تریو وچولي عبدالله ته ورکتل . عبدالله ډیرو ویرید او شاته شاته ترې ولاړ هغه غوښتل چې له هغه څخه لرې شي .

هغه سړی په ډد آوز وویل :"چیرته ځې ؟"

عبدالله وویل : " چیرته ځم ؟ اوه، آغا زه چیرته نه ځم . ما یواځی خپل ځای ددې لپاره بدل کړ چې ماینونو ته نږدې راشم ؛ او هغه وګورم . پلارمې راته ویلي چې یو ښه ماین واخلم ."

عبدالله ماینونه په لاس کې ونیول ، په هغوی ئې لاس وواهه ، او داسې ئې وښود چې پو هیږی کوم ماین ښه دئ ."





عبدالله بالاخره له ځان سره فکر وکړچې نشم کولی هغه وغولوم . بیائې وویل :" زه  ددهقان زوي یم زه یواځې  دا کولی شم چې دښې اوخرابې میوې توپیرووایم . "

لوړ قدې سړی په خندا پیل وکړ خو ډیر ژرغلی شو او بیرته ئې وچولی تریو شو د عبدالله خواته راغی او په خپله غټه ګوته ئې د عبدالله خواته ونیوله وئې ویل :" ای ځویه کله دې د شمالي انګورخوړلی دي ؟ "

عبدالله ډیر فکر وکړ اووئې ویل :" هو ! آغا یواځی یو ځل ."

سړی وویل :" ایا خوند ئې ښه وو ؟"

عبدالله ځواب ورکړ:"آغا ډیر ښه وو."

سړی وویل:" اوبه ئې درلودې ؟"

عبدالله وویل :" ډیر اوبه لرونکې  وو."



سړی وویل :" خواږه هم وو؟"

عبدالله وویل :"ډیرخواږه وو."

سړی په داسی حال کې چې خپل ځان ئې را خم کړ وویل :"ایا کله چې دې هغه خوړل ستا پښه ئې غوڅه کړه ؟"

عبدالله پوښتنه وکړه :"زما پښه ئې غوڅه کړه ؟"

سړی وویل :"ماین د سړی پښه غوڅوي ایا د شمالی هغه انګور چې تا وخوړل ستا پښه غوڅه کړه ؟"

عبدالله ځواب ورکړ :"نه آغا ، له انګور و خوړلو وروسته ئې پښه به بشپړه توګه روغه وه ."

بیا سړی د خاص مقصد لپاره پوښتنه وکړه:" ایا د شمالي انګورو ستا خور ووژله ؟"

عبدالله وویل :" اوه آغا نه خیر نه ئې ده وژلې ."

سړی وویل :" دخور په وژلو دې ماین خو شحالیږی . ایا د شمالی انګورو ستا د خور ګوتې غوڅې کړې ؟"

عبدالله ځواب ورکړ:" آغا ، نه خیر."

سړی پوښتنه وکړه:" داددې سبب ګرځی چې ته ړوند شي ."

عبدالله ځواب ورکړ :" نه خیر "

سړی پوښتنه وکړه :" ایا انګور ددې لامل ګرځي چې ستا پښی نه وي او د سرک په سر ګدائې وکړې؟"

عبدالله وویل :" آغا نه خیر ."

سړی پوښتنه وکړه :" ایا ستا په ټولو کې ښه دوست دا هڅه کوي چې د کاکا د خره پښه دې غوڅه کړي ؟"

عبدالله ځواب ورکړ:"آغا نه خیر ، نه ، نه د شمالی انګور دایو کار هم نه کوي."

سړی چې د عبدالله ته ځیر شوی وو- وویل :" نو ته باید ډیر خوشحاله و اوسي چې د دا ډول انګورو څښتن ئې."

عبدالله وویل :" همداسی ده آغا ."

سړي وویل :"هغه انسان چې د انګورو یو وړی روزي باید په خپل دغه کار ویاړوکړي ، همداسی نه ده ؟"

"هو ، آغا "

سړی وویل:" انسان باید په داسی شیانو ،چې کري یې او هغه خلکو ته ژوند بخښي ویاړ وکړې . انسان باید په دې هم وویاړي چې داسې شیان جوړه وي چې خلک پرې آسوده کیږي . همداسی نه ده ؟"

" آغا ، همداسی ده ."

بیا د لوړ قد سړی هغه ماینونو ته وکتل چې عبدالله مخی ته ایښی وو . خوله ئې داسی وازه نیولی ولکه کوم خراب شی ئې چې څکلی وي اوغواړی چې هغه بېرته تو کړې او بیا ئې وویل :" انسان باید ټول هغه شیان چې د وژلو لامل ګرځي له منځه یوسي ، همداسی نه ده ؟"

"اوه ، آغا همداسی ده ."

د لوړ قد سړی سمدستي چپ شو . رنګ ئې الوتی و . داسی څرګندیدله چې ساعت په ساعت کمزوری کیږي . هغه د خوراکې توکو په یوه غرفه باندې تکیه کړی وه چې ونه لویږي . داسی ښکاریدل چې قد ئې ورو ورو لنډیږی او په څېره کې ئې درد او غم لیدل کیږي .

عبدالله وویل :" آغا ته ښه ئې ؟"

لوړ قدی سرتیری په ربښتیا وار په وار وړوکی کیدلو . اوس د هغه قد د عبدالله د قد په اندازه رالنډ شوی و . عبدالله ته ئې وکتل او بیا ئې په ډیر ضعیف غږ وویل :" نه زویه ، زه ښه نه یم "

" آغا تاسو څوک یاست ؟"

سړی وویل :" زه هغه څوک یم چې کلونه جنګېدلی یم ."

عبدالله پوښتنه وکړه :" آغا ستاسو مطلب څه دئ ؟"



سړی وویل :" زه د افغانستان هغه هلک او هغه سړی یم چې ټوپک مې واخیست او جنګ مې وکړ وکړ او ووژل شوم . زه فیصل یم . هغه ځوک چې میرمن می پریښوده تر څو له دښمنانو سره جګړه وکړم . زه رحیم یم هغه ځوک چې د هیواد د جنګ لپاره مې پوهنتون پرېښوده . زه اسلم یم چې د انګور و د تاکونو روزنه مې پریښوده . ماډیرې مېړانی کړې دي چې تل به ئې خلک په یاد ولري . ما ناوړه کارونه هم کړي دي غواړم چې هغه له هیره وباسم . زه ستړی یم زه ډیر ستړی یم .

عبدالله دهغه سړي په اړه په تشوش کې شو . د سړی رنګ الوتئ وو ، ډېر ناروغ او ډیر ستومانه برېښده . هغه په ځمکه پلتۍ وهلې وې او عبدالله ته ئې وکتل خولې ئې په مخ ځلېدلې ورو ئې دا زمزمه وکړه :"انګور ... د شمالی انګور ،"

عبدالله خپل شاه او خوا ته وکتل . بازار له مختلفو رنګونو ډکه ډک وو .

د مارکیت شور او ماشور ، د خلکو راکړه ورکړه ، د هغو میوو بوی چې ډیري زیاتی پخې شوی وې ، د وړی او خاوری ، عبدالله یو سپی ولید چې یو شی ئې په خوله کې نیولی واو د دکان یوی غرفی لاندې ننوت .

عبدالله له ځان سره وویل :" دا سړی انګور غواړي ، هغه خامخوا له تندې مري ، باید لږ انګور ورته پیداکړم " مګر کله ئې چې لاندې وکتل وئې لیدل چې هغه سړی نشته دی .

عبدالله د بازار د ننه منډې وهلې او سړې پسی ئې چیغی وهلې ...

عبدالله سمدستی یو غږ واورید چې ویل ئې :" عبدالله آرام شه ، ټول شیان ښه دي . " دا د چا غږ وو؟

عبدالله پورته وکتل ګوری چې انا ئې ، بې بې جان ، ئې مخ کې ولاړه ده . هغې یوه تارینه ټوټه لمده کړې وه اوپه وچولې ئې ورته کېښوده . عبدالله په بستره کې غزیدلی وو . دا ټول شیان ئې په خوب کې لیدلی وو .

عبدالله وویل :" هغه چیرته لاړ ؟ "

بې بې جان وویل :" آرام شه ، تا خوب لیدلو . اوس دې تبه خوشې کوي زربه جوړشي ."





عبدالله تر اوسه هم په بستره کې ویده او غوږئې نیولئ وو یو څو لحظی وروسته ئې کوچنی خور جمیله ددې لپاره کورته دننه راغله چې د وچولي لمده ټوټه ورته بدله کړي . عبدالله هغې ته وویل :" ماله یولوړقدې سړی سره خبری وکړې ، قد ئې دوه متره وو . "

جمیلې وخندل :" اوه عبدالله . دلته دومره د لوړ قد سړئ نشته ! ته ډیر غټ درواغجن ئې !"

عبدالله مسکی شو . خو تر اوسه ئې لاهم نشوکولې چې خپل لیدلی خوب هېر کړی کله ئې چې پلار کورته راغی خوب ئې هغه ته هم تیر کړ . میرزا یوه گړی په فکر کې شو . وروسته ئې وویل : " آه ، زه باورلرم چې ما هم هغه سړی لیدلی دئ ."

عبدالله وویل :" مگر هغه ولې د شمالی انگورو په باره کې خبرې کولې ؟ "

میرزا ځواب ورکړ :" ډیرې اوبه لري ، ډیرخواږه دي .نوولی هغه د انگورو په برخه کې خبرې ونه کړي ؟"

عبدالله چې ډیرتږی شوی ووخندل او وئې ویل :" زه دې اړکړم چې دشمالی انگور وخورم."

میرزاوویل: " دا ډېرښه نظردئ که سبا ته ناروغ نه وي دواړه به با زار ته ولاړشو اولږ انګوربه راونیسو"

بله ورځ میرزا اوعبدالله دواړه بازارته لاړل ، اودشمالي لږ انګورئې راونیول . دشمالي انګورپه رښتیا هم له اوبو دیرډک ، خوندور او خواږه وو.

*******